خبریال: عبدالحق عمري
مرسل: د پورتال هوادار ـ کابل

۰۶ جون ۲۰۲۴

## سرچيني:

## د دوحې راتلونکې ناسته کې طالبان پر نهو او مقابل لورى پر پنځلسو ټکو بحث کوي

سرچينو افغانستان انټرنشنل ته ويلي، د ملګرو ملتونو او امريکا استازو د دوحې راتلونکې ناستې لپاره د همغږۍ غونډه کې خپله ۱۵ ماده يي اجنډا له طالبانو سره شريکه کړې.

مقابل کې د ملا هبت الله استازي او د دې ډلې د کار او ټولنيزو چارو وزير دغه غونډه کې د ګډون لپاره خپل شرطونه وړاندې کړي.

د ملا هبت الله ځانګړى استازي او ددې ډلې د کار او ټولنيزو چارو وزير عبدالمنان عمري د غبرګولي ۷مه دوحې ته لاړ، چې په وروستيو ورځو کې يوازې د قطر له کار وزير علي بن صميخ المري سره ليدنه رسنيزه شوې ده.

خو سرچينو افغانستان انټرنشنل پښتو ته ويل، چې دغو طالب چارواکو په خپل سفر د دوحې راتلونکې ناستې لپاره د د ملګرو ملتونو او امريکا له استازو سره د همغږۍ غونډه هم کړې ده.

د ملګرو ملتونو او امريکايي استازو د دوحې ناستې اجنډا له طالبانو سره شريکه کړه، چې مواد يي ټول افغانستان انټرنشنل ـ پښتو ترلاسه کړي دي.

د ملګرو ملتونو او امريکايي استازو له خوا له طالبانو سره شريکه شوې ايجنډا کې، د دوحې د ناستې ټول موضوعات په ۱۵مادو کې روښانه شوي دي.

لومړی: د دوحې-دريمه يا راتلونکې غونډه کې د اجنډا لومړۍ موضوع په افغانستان کې د بشر حقوقو جاري وضعيت او پر افغانستان د طالبانو درې کلن حاکميت ته کتنه.

دوهم: په افغانستان کې د افغان ميرمنو، نجونو او خبرياالنو پر وړاندې د طالبانو د دريځ په تړاو هر اړخيز بحث.

دريم: د افغانستان په تړاو د ملګري ملتو په مشرۍ د نړيوالې ټولنې، امريکا، نړيوالو بشري اومدني بنسټونو، د سيمې هېوادونو او افغان چارواکو په حضور کې د افغانستان لپاره د ځانګړي استازي پر ټاکلو په تړاو بحث.

څلورم: له افغانستان بهر د پخوانيو سياستوالو, افغان ميرمنو، افغان مدني بنسټونو استازو غوښتنو ته کتنه, په ځانګړي توګه پر افغانستان د طالبانو له حاکميت راهيسې د افغانستان داخلي وضعيت او له هرې زاويې څخه د سيمه ييزو هېوادونو سره پر اړيکو خبرې کول.

پنځم: د ۲۰۲۱ کال د اګست له پنځلسم وروسته په افغانستان کې د ملګري ملتو د سیاسي ماموریت (یوناما) کاري بهیر او پر وړاندې یې د موجوده ننګونو یادونه.

شپږم: په افغانستان کې د طالبانو حاکمیت کې د بیان ازادي وضعیت ته کتنه او پرې د نړیوالې ټولنې له استازو سره د پام وړ بحث.

اووم: د طالبانو په حاکمیت کې له افغانستان څخه سیمې او نړۍ ته د راتلونکو ممکنه ګواښونو په تړاو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ځانګړي استازي راپور.

اتم: په افغانستان کې د کاري فرصتونه پر کمښت, د اقتصادي ستونزو پر پراختیا او یو شمېر ورته تړلو موضوعاتو بحث.

نهم: په افغانستان کې د طالبانو د حاکمیت په تړاو د نړیوالې ټولنې، امریکا او سیمه ییزو هېوادونو د استازو نظر پوښتنه.

لسم: په افغانستان کې د ټول شموله حکومت پر جوړښت او د مساوي ګډون پالیسی په تړاو بحث.

یوولسم: په افغانستان کې د اسلامي دولت (داعش) او نشه یي توکو پر ضد مبارزې ته کتنه

دوولسم: د اقلیم د بدلون او پر افغانستان او سیمه ییزو هېوادونو یې اغیز او د مخنیوي لارې چارې.

دیارلسم: په افغانستان کې د طالبانو په حاکمیت کې پر خصوصي سکتور بحث او د دغه سکتور پر وړاندې د ننګونو پر له منځه وړلو بحث.

څوارلسم: په افغانستان کې د طالبانو حاکمیت لاندې پر مالي او بانکي ستونزو بحث او د حل لارو لټون.

پنځلسم: د افغان کروندګرو لپاره د کوکنارو د کښت لپاره د بدیل معیشت په تړاو هر اړخیز بحث..

دا هغه موضوعات دي، چې ملګرو ملتونو او امریکایي استازو د دوحې دریمې ناستې د اجنډا لپاره ټاکلي او غواړي له طالبانو سره پرې بحث وشي.

**د طالبانو شرایط**

طالبانو د دوحې تېره غونډه کې ګډون نه و کړی او په راتلونکې غونډه کې د ګډون لپاره یې هم یو شرط د راتلونکې ناستې پر اجندا پوهېدل و.

د دوحې په همغږۍ غونډه کې د طالبانو د مشر ملا هبت الله ځانګړي استازي او د دې ډلې د کار او ټولنیزو چارو وزیرعبدالمنان عمري د ملګرو ملتونو او امریکایي استازو په حضور کې په دې ناسته کې د ګډون لپاره د طالبانو نهه نور شرایط هم وړاندې کړي دي.

اول: افغانستان کې د ملګري ملتو د سیاسي ماموریت (یوناما) له فعال حضور سره د بل استازي له ټاکلو سره مخالفت.

دوهم: په ملګرو ملتونونو کې د افغانستان څوکۍ طالبانو ته سپارل.

دریم: د طالبانو پر وزیرانو اومشرانو د ملګرو ملتونواو امریکا لخوا د محدودیتونو او بندیزونو د ختمولو لپاره اقدامات.

څلورم: په افغانستان کې د ملګرو ملتو تر چتر لاندې موسسو نه دا غوښتنه، چې خپلې چارې د طالبانو له غوښتنو سره پرمخ بوځي.

پنځم: د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د طالبانو پر ضد اعلامیې چې د دواړو اړخو ترمنځ تعامل ځنډوي او سختوي.

شپږم: د افغان نجونو او میرمنو د زدکړو او کار د بندیز په تړاو د طالبانو پر ضد اعلامیو او بهر مېشتو افغانانو سره د غونډو د پای ته رسولو غوښتنه.

اووم: د طالبانو پرضد د ملګرو ملتونو او امریکا د فشار او بې ضرورته اقداماتو د مخنیوی غوښتنه، چې ګډ تعامل ته لار هواره شي.

اتم: په افغانستان کې د بشري مرستو او اقلیمي بدلونو پر مهال د ملګرو ملتونو, نړیوالي ټولني او امریکا د بشپړي توجه او بې شرطه دوامداره بشري مرستو غوښتنه.

نهم: په افغانستان کې د زدکړو په برخه کې باید د ملګرو ملتونه غیري مشروطه مرستي او همکاري یو طرفه یا یوازې د عصري زکړو لپاره ونه اوسي.

د افغانستان انټرنشنل ـ پښتو خبریال عبدالحق عمري ته په قطر کې طالب سرچینو ویلي چې د دوحې د دریمې ناستې لپاره د همغږۍ غونډه کې طالب استازو د یو پلاوي د چمتوالي خبر ورکړی خو یادونه شوې ده، چې د کډون او نه کډون پرېکړه به ملا هبت الله اخواندزاده کوي.

خو له دې سره د دوحې په راتلونکې ناسته کې د طالبانو په پلاوي کې د دې ډلې د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر، د اقتصاد وزیر دین محمد حنیف، د ملا هبت الله ځانګړی استازی عبدالمنان عمري، په دوحه کې د طالبانو د سفارت چارسمبالی نعیم او د سیاسي دفتر چارسمبال ترځنګ په ملګرو ملتونو کې د طالبانو لخوا ټاکل شوی دایمي استازی سهل شاهین شامل دی.

*****

۵ ساعتونه مخکې